په نيدرلند کې افغاني کولتوري ټولنه ۲۰۱۱/۱۱/۱۳

# د افغاني نوي فلم «غلطه لاره» په اړه

## په نيدرلند کې د افغاني کولتوري ټولنې پيغام

د زندام (Zaandam) ښار

ټولو ته څرګنده ده، چې بشر له خپل پيدايښته له هنر سره مينه درلوده، چې د سيمو نکلونه يې تر موږ په فولکلوريک بڼه را رسيدلي دي او په ډبرو او ديوالونو يې ښکل شوي انځورونه د هنري وړمې په شکل زموږ تر سترګو شوي دي. همدا ډول ليا له څو زرو کلونو راپه دېخوا انسانانو د تفريح او ساتيري لپاره جشنونه نيول او په هغې کې به هرومرو نڅا، ګډا، سندرې او ننداړتونونه ول، چې ښه بيلګه يې په سهيله امريکا کې د مايا او په عربي نړۍ کې د مصر د مدنيتونو عنعنوي او مذهبي جشنونه دي. په لرغونپلټنه (ارکيالوژيکي کيندني) کې داسي تاريخي لاسته روارړنې شته، چې په بشر کې له انځور سره مينې ته ښودنه کوي، چې د مايا کولتور او مصري مدنيت هيروګلوفونه، اهرامونه او مجسمې يې ښې بڼې دي، خو له هېره بايد و نه ايستل شي، چې زموږ لرغونی هيواد افغانستان هم د بشر په کلتوري ځانګو کې خپله برخه لري، چې د باميان مجسمې او په هغوی کې دننه ښايسته رنګين انځورونه د نړۍ د بشري ارزښتونو يوه لويه هنري او کلتوري پانګه ده، چې په نړيواله کچه د بشري تاريخ په ځانګو کې زموږ د خلکو او هيواد هنري او کولتوري هڅو ته ښودنه کوي.



انځور ۱: د باميان بودا، د مايا او مصر هيروګليفونه

د سينما هنر د بشر په ژوند کې يو غوره، تفريحي، روزنيز، مالوماتي او پوهنيز هنر ګڼل کيږي. د سينما هنر لږ تر لږه يوسلو شل کاله مخکې د نولسمې پيړۍ په پای کې رامنځ ته شوی دی چې د لومړي ځل لپاره په ۱۸۸۷ ميلادي کال (Eadweard Muybridge) د عکاسي د څو کامرو په کارولو په دې وتوانيد چې د خپلو آسونو ځغاسته تر يوه بريده د خوځيدونکي فلم په بڼه جوړ کړي چې په ليدو يې انسان ته د يوې خوځيدونکې پېښې انځور ورکاوه او په ۱۸۸۹ ميلادي کال بيا (Thomas Edison او William Dickson) په دې وتوانيدل چې يوه د فلم اخيستلو کامره جوړه کړي چې د (kinetoscoop) نوم دغه کامرې ته ورکړل شوی ؤ. بايد ياده شي چې هغه کامره ډېر درنه وه او پروجکتور يې هم نه درلود چې فلم په پرده او يا دېواله وښيي، نو ځکه د ټولو لپاره د کارولو وړ کامره نه وه.
په ۱۸۹۵ ميلادي کال د فرانسوي (Antoine Lumière) دوه ځامن (Louis او Auguste) په دې وتوانيدل چې د فلم يوه داسې کامره جوړه کې چې وزن يې تر ۵ کيلوګرامه وي او کامره پروجکتور هم ولري چې فلم په پرده او يا دېواله هم وښودلی شي. دغه د سينمايي هنر انقلاب د فرانسې د پاريس په ښار کې رامنځ ته شو او لومړني فلمونه زياتره فرانسوي ول، مګر په ۱۸۹۶ ميلادي کال کې د سينما هنر ټول سرحدونه مات کړل او له بروکسله رانيولې تر لندنه او نيويارکه يې لمنه خوره شوه.
د سينماتوګرافي يا د سينمايي هنر د فلم اخيستلو لومړنۍ کامرې ته هم ډېر په زړه پورې نومونه وکارول شول، چې له ننداړتون، خوځښتونو، ژوند، خوځيدونکو انځورونو او داسې نورو اصطلاحګانو سره يې تړاو درلود، خو له هغو ټولو نومونو نه يوازې د سينما او سينماتوګرافي وراشه په څيړنيزو ليکنو او ورځنيزو چارو کې کارول کيږي. د لومړنۍ کامرې نومنونه په لاندې ډول ول:

| | | | |
|---|---|---|---|
| mutoscoop | vitascoop | praxinoscoop | theatrofoon |
| zoötroop | biograaf | fototachygraaf | fenakistiscoop |


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

په زړه پورې دا ده، چې د فلم لومړني نوښتګر (Louis Lumière) داسې وراشه یاده کړې وه چې سینما یا سینمایي هنر هغه اختراع ده چې آینده نه لري « Le cinéma est une invention sans avenir » مګر په ژوند کې هر څه بل ډول شول او سینمایي هنر د ژوند په بیلابیلو برخو کې خپل هر اړخیز اغیز پرېښود او خپل غوره ځای یې د هنرونو په نړۍ کې ونیوه، چې نن سبا هم د هنر په ډګر کې او هم د ژورنالیزم، روزنیزو، تاریخي او جوتو علومو په برخه کې په پراخه پیمانه د فلم او سینماتوګرافي هنر کارول کیږي او په تلویزیون، کمپیوټر او نورو انځوریځو تخنیکونو کې د فلم هنر یو ستر انقلاب رامنځ ته کړی دی چې پرته له سینمایي هنره د ننني عصري ژوند تصور هم نشي کیدلی.



انځور ۲: د فلم اخیستلو کامرې او د فلمونو څرخونه

په نړۍ کې نن سبا په ټولو ملکونو کې په بیلابیلو ژبو هنري، روزنیز، ژورنالیستیکي او پوهنیز فلمونه جوړیږي، خو په نړۍ کې د سینما تر ټولو لوی صنعت په امریکا او هندوستان پورې اړه لري، مګر د نورو ملکونو فلمونو هم خپل کولتوري او بشري ارزښتونه نړۍ ته وربښلي دي. د امریکا فلمي صنعت په هالیوډ (Hollywood) پورې اړه لري، چې د سینمایي هنر د صنعت بنسټ یې په ۱۹۱۱ میلادي کال کې ایښودل شوی دی او لږ څه موده وروسته له دې په ۱۹۱۳ میلادي کال د هندوستان د بمبیي په ښار کې د سینمایي هنر لومړنی فلم د (Raja Harishchandra) په نامه بازار ته راووت، چې ډېر مینوال یې پیدا کړل او د فلم هنر د بهارت په ژوند کې خپل ټولنیز موقف ټینګ کړل، چې نن سبا هر کال تر زرو (۱۰۰۰) ډېر هندي هنري فلمونه جوړیږي، چې د مومبی په ښار کې یې زیاتره فلمونه جوړیږي او نړۍ ته وړاندې کیږي، ځکه چې د هندي فلمونو مینه وال په ټوله نړۍ کې میشت دي او د هندوستان سینمایي صنعت وسمهال د بالیوډ (Bollywood) په نامه یادیږي.

د سینما هنر په وده کې ډېر پړاونه تیر شوي دي، چې وروسته له (slapstick) یانې ښوییدلو، لوېدلو او یا داسې نورو کومیدي حرکتونو تر سره کول چې لیدونکي ته په زړه پورې وي لکه د چارلي چاپلن (Charlie Chaplin) بې غږه فلمونه چې تر ننه د خلکو خوښیږي او بله پېښه د فلم سینخرونیزېشن (synchronisation) یانې د انځور او غږ دواړو غبرګه خوځیدنه وه، نو دغو پیښو د سینما هنر نور هم پیاوړی کړ او د لیدو، پوهیدلو او خوښې وړ یې وګرځاوه.

باید یاده شي، چې سینمایي هنر د لوبغاړو له څیړې، ښایست او هنري استعداد سره هم نیږغ په نیږغه تړاو لري. د سینما په هنر کې د ماریلین مانرو (Marilyn Manroe)، سیلویستر ستالون (Sylvester Stallone) چې موږ یې د رامبو په نامه پیژنو، عمر شریف (Umar Sharif)، دلیپ کومار، امیتابچن، هماملاني، ریکا، کترینا کیف، سلمان خان، شاروخ خان او داسې نورو ستوریو چې د سینمایي هنر په پرمختګ او شهرت کې یې غوره رول لوبولی یادول به بې ځایه نه وي او د پوهنیزو فلمونو په برخه کې د نشنال جیوګرافیک د کمپنې او د دیسکوري د کمپنې له نومونو نه نه شو تیرېدلی، ځکه چې ډېر پوهنیز فلمونه یې نړۍ ته وړاندې کړي دي. ښه به وي چې یوه ورځ زموږ هنرمندان هم په نړیواله کچه لکه د نړۍ نور ستوري د ځلانده ستوریو په بڼه وځلیږي.

په یوویشتمه پیړۍ کې د سینما په هنر کې کمپیوټري امکانات رامنځ ته شول چې په پرېمانه پیمانه د فلم جوړولو په ترڅ کې کارول کیږي او د دغه تخنیک په مرسته موږ کولی شو، چې د بشر ارکاییزم راژوندی کړو او هغه پیښې رامنځ ته کړو چې په عادي حالت کې نا ممکنې وي لکه په نړۍ کې د دینازوروس د ژوند پېر یا دوران چې د فلم په بڼه جوړ شوی دی. له بل پلوه نن سبا د بیدیموسیونال (Bidimensional) تر څنګ ترېدیموسیانال (Three-dimensional) انځورونه هم جوړیږي، چې انسان ته پیښه په واقعي بڼه ورښیي او دغه تخنیک د فلم د هنر یوه نوې پاڼه پرانیستې ده.

د سینما په هنر کې افغاني سینماتوګرافانو هم خپلې هلې ځلې کړې دي او په سلهاوو فلمونه یې ټولنې ته وړاندې کړې دي. د افغاني سینما یو له لومړنیو فلمونو څخه د «غلام عشق» په نامه یادېده او تورو سپین جوړ شوی ؤ، خو ځینې بیا د «مانند عقاب» افغاني فلم لومړنی فلم ګڼي. له بده مرغه باید یاده شي چې د افغاني سینما په هنر کې د پښتو ژبې فلمونه د ګوتو په شمار دي، چې د ښاغلي واحد نظري ځینې فلمونه لکه: د کونډې زوی چې ښاغلي ممنون مقصودي غوره رول یکي لوبولی دی، ارمان، هجرت او داسې نور د یادونې وړ دي. د پام وړ ده چې په افغانستان کې او له افغانستانه بهر نور ګڼشمیر سینمایي هنر مخکښو لکه انجینیر لطیف، صدیق برمک، او داسې نورو هم د افغاني سینما په برخه کې خپلې


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هلې ځلې کړې دي، چې دغو افغاني فلمونو په افغاني ټولنه کې خپل زغرده ټولنيز اغيز پرې اېښی دی، خو بيا هم د افغاني سينما هنر ليا د ماشومتوب په پړاو کې دی ليا پخېدو ته نه دی رسيدلی.

نن سبا نوي ځوانان د سينمايي هنر په برخه کې په عصري سينماتوګرافي روزل شوي دي او مسلکي زده کړې يې تر سره کړې دي، چې د افغان ولس سترګې هم دغه د سينما په هنر کې ځانګړوه ځوانانو ته دي. له نيکه مرغه د سينمايي هنر يوه ښه روزل شوې ډله دلته په نيدرلند کې اوسي او د سينمايي هنر په برخه کې د خپلو هېوادوالو لپاره خدمت کوي، چې نن يې موږ د يو نوي افغاني فلم «غلطه لاره» د پرانيستنې په غونډه کې ګډون کړی دی او د هغوی د دغه شهکار په کتلو وياړو او د قدر په سترګه ورته ګورو.

په نيدرلند کې افغاني کولتوري ټولنه په دې وياړي چې زموږ ځوانو ځانګړوهو سينماتوګرافانو د سينما په هنر کې بيا يو نوی افغاني فلم «غلطه لاره» يا «Wrong Path» په لوړه کچه جوړ کړی دی او خپلو افغانانو ته يې نندارې ته وړاندې کړی دی او په بهر کې يې د افغان سينمايي هنر دودونه، استعدادونه او لوړپديز کولتوري ارزښتونه د فلمي کامرې په سترګه د نړۍ نورو وګړو ته ورښودلي دي او په نړيواله هنري پانګه کې يې د افغان ولس د کولتوري ارزښتونو لمنه نوره هم درنه کړې او نوره يې هم خوروي. دغه افغاني فلم د يو شمير ځوانو افغانانو د څو کلونو د زيار او منت پايله ده چې موږ يې ستايو او د افغاني کولتور په وده کې يې يو نيکمرغه ګام ګڼو.

تاسو ته څرګنده ده، چې نن سبا په افغانستان کې ۳۶ تلويزيوني مرکزونه خپلې خپرونې خپروي او ګڼشمير ويديو کلپونه او سينماوې فعاله دي، خو له بده مرغه بايد ياده شي، چې افغاني انځوريزې رسنۍ په پردېو خپرونو او فلمونو ډکې دي، چې د پرديو کولتوري يرغل ته يې زمينه مساعده کړې ده. په نيدرلند کې افغاني کلتوري ټولنه په دې آند ده، چې زموږ د عنعنوي فلمونو په جوړولو او خپرولو موږ کولی شوچې خپله افغاني ټولنه د بهرني کولتوري يرغلونو نه وساتو او د افغاني هويت په ذهنيت کې جوت ګامونه پورته کړو. په پای کې بيا هم له خپلو دغو درنو د سينمايي هنر ځانګړوهو افغانانو څخه مننه کوو او هغوی ته د نورور برياوو په هيله يو.

په درنښت

په نيدرلند کې افغاني کولتوري ټولنه

www.acvn.nl
acvn.nl@hotmail.com


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ